## ګړدود / لهجه څه ده؟

ګړدود د خبرو کولو طریقې ته وائي. دا یوه ژبني موضوع ده چي د یوې ژبې د ګړدود/ لهجې یا ګړدودونو (لهجو) تر منځ توپیرونه تر څېړني لاندي نیسي. د لهجې په هکله زیاتره ژبپوهان په دې خبره متفق دي چي دا په یوه مخصوصه سیمه کښې وئیل کیږي، او له معیاري ژبې سره توپیر لري. ګړدود پوهنه د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې په تشریحي ژبپوهنه کښي څېړل کیږي. لهجې ته په انګلسي ژبه کښې ګړدود (Dialect) او د دې پوهنه ته ګړدود پوهنه (Dialectology) وائي، چي اشتقاقي ریښه یې له یوناني ژبې څخه اخیستل شوې ده. دولت محمد لودین د لهجې د یوناني ریښې په اړه په خپل اثر(د عمومي ژبپوهنې مسایل-۱۳۹۵) کښې داسي لیکي: د دیالکت اصطلاح له یوناني ژبې څخه نورو ژبو ته ورغلې ده... دیالکت (Dialect)ته په یوناني ژبه کې دیالیکتوس (Dilektos) ویل کیږي چې په پښتو ژبه کې یې په ځایي محاوره یا لهجه باندې ژباړلې شو.دیالکت یا دغه دیالیکتوس د یوې ژبې د خلکو هغه محاوره او خبري اترې دي، چي دهماغه ځای د پرګنو په خدمت کې وي، خپل ځانګړی ګرامري جوړښت او بنستیزه لغوي پانګه لري، د ملیت د جوړېدنې په پروسه کې کېدای شي چې د ملي ژبې په ډول منځته راشي. (مخونه ۱۷-۱۸)

معروف شاه شنواری د پښتو ژبې تاریخي تحول (۱۳۹۵) کښې د ګړدود د اشتقاقي ریښې په هکله داسي لیکي: لهجې ته په انګریزي کې (dialect) وایي چې له یوناني (dialectos) لغت څخه مشتقه کلمه ده او ډیالکټوس د خبرو کولو طریقې ته ویل کېږي، لهجه د خبرو اترو طرز یا د خبرو د افادې یو ډول دی. لهجه د یوې ژبې سیمه ییزه نوعه هم بللای شو. (مخ ۴۹)

له دې ماخذونو څخه دا خبره واضح شوه چي ګړدود / لهجه د نورو تخنیکي او علمي اصطلاحاتو په څېر له یوناني ژبې څخه د نړۍ و نورو ژبو ته داخله شوې ده، یا به داسي ووایو چي له یوناني ژبې څخه مستعار / پور کړې ده، چي مانا یې د خبرو اترو یوې داسي طریقې ته وائي چي په یوه مخصوصه سیمه او خلګو پوري اړه لري.

د ګړدود د اشتقاقي ریښې له څېړلو پرته اوس ځیني تعریفونه راوړو چي په دې هکله نور وضاحت وسي.

سید خیر محمد عارف (ترین او ترینو یوه تاریخي او تحقیقي څېړنه) کښې د نادر خان علیل د اکسفورډ ډکشنرۍ په حواله د لهجې په حقله لیکي:

**Form of speech peculiar in particular region:**

ژباړه: لهجه د ژبي هغه قسم وي چي د یوې مخصوصي علاقې یا بېلي قبیلې خلګ یې وائي. (مخ ۱۶۴-۶۵)

- معروف شاه شنواری د پښتو ژبې تاریخي تحول (۱۳۹۵) لیکي:

ژبپوهان وایي کوم ګروپي تغیر چي د ژبې په وییز او غږیز سیستم او شکل کې لیدل کیږي یا پېښېږي هغه لهجه بلل کېږي.

په دې پسې معروف شاه د پښتو- پښتو تشریحي قاموس دویم ټوک څخه د لهجې یوه حواله داسي راوړي: د یوه ځای محاوره د یوې ژبې هغه فورم، چي په یوه خاصه منطقه پورې اړه او د ژبې د معیاري یا اصلي فورم د محلي لغوي پانګې تلفظ او ګرامري جوړښت له مخې توپیر لري. (مخ ۴۷)

ډاکټر دولت محمد لودین د لهجو په منځ کښې توپیر داسي بیانوي:

دیالکت (ګړدود / لهجه) لکه د سیمې له مخې، سره له دې چي سیمه یو څه کوچنۍ هم وي له بل دیالکت سره د غږ، ګرامري جوړښت او د قاموس له مخي توپیر لري. (مخ ۱۸، د عمومي ژبپوهنې مسایل)

عصمت الله میاخېل په ګړدود پوهنه (۱۳۹۷) کښې د لهجې تعریف داسي کوي:

ژبپوهان وایي کوم ګروپي تغیر، چي د ژبې په وییز او غږیز / ږغیز سیستم او شکل کې لیدل کیږي یا پیښیږي هغه لهجه بلل کیږي. په دې ترتیب کوم ځانګړي توپیرونه چي د یوې ژبې د ویونکو په وینا کې لیدل کیږي د هغې ژبې بېلا بېلې لهجې دي.(مخ ۲۶)

میاخېل مخ په وړاندي د لهجې د ښې پېژندني دپاره داسي ټکي راوړي:

- – د ژبې په وییز او غږیز / ږغیزسیتم کې پېښ شوي تغییر ته لهجه وایي.
- کوم ځانګړي توپیرونه چي د یوې ژبې د ویونکو له خوا لیدل کیږي لهجه ده.
- د یوې ژبې د هر ویونکي وینا د لهجې ښکارندویي کوي.

- د انسانانو ټولې ژبې دننه په خپل جوړښت کې لهجې لري
- لهجه د ګړېدو هغه بڼه ده چې په فونیټکي، لغوي او ګرامري لحاظ د نورو ټولنو یا هم د ملي ژبې سره توپیر ولري. (مخونه ۲۸-۲۹)

ډیویډ کرسټل په خپل یوه سیند / قاموس (د ژبپوهنې او ږغپوهنې سیند- ۱۴۲) کښې د ګړدود تعریف داسي کوي:

**dialect** (*n.*) A regionally or socially distinctive variety of language, identified by a particular set of words and grammatical structures. Spoken dialects are usually also associated with a distinctive pronunciation, or accent. Any language with a reasonably large number of speakers will develop dialects, especially if there are geographical barriers separating groups of people from each other, or if there are divisions of social class. One dialect may predominate as the official or standard form of the language, and this is the variety which may come to be written down. The distinction between 'dialect' and 'language' seems obvious: dialects are subdivisions of languages. 142 page

ژباړه: د یوې ژبې په سیمه ییزه یا ټولنیزه توګه یو داسي بېل ډول / قسم، چې د ځیني ځانګړي تورو او ګرامري جوړښتونو له سوبه پېژندل کیږي، ګړدود دی...

او یو بل ځای داسي بیا داسي راوړي:

**idiolect** (*n.*) A term used in linguistics to refer to the linguistic system of an individual speaker – one's personal dialect. A dialect can be seen as an abstraction deriving from the analysis of a large number of idiolects. **Idiolectal** features are particularly noticeable in literary writing, as stylistic markers of authorship. Some linguists give the term a more restricted definition, referring to the speech habits of a person as displayed in a particular variety at a given time. 235

A Dictionary of Linguistics and Phonetics 6th Edition. David Crystal

2008 ©David Crystal.

**په فشار (Accent) او لهجه (Dialect) کښې توپیر**

کله چې د یوه ویناوال په خبرو کښې پام یوازې د هغه و تلفظ (pronunciation) ته واړول شي نو فشار بلل کیږي چې له دې څخه دا ښکاره کیږي چې دغه ویناوال له کومه ځایه څخه دی. خو د دې په نسبت فشار له لهجې / ګړدود سره پر څو ځایه توپیر لري. یعني په ګړدود پوهنه کښې دګرامر، وییپانګه او د تلفظ ځیني خصوصیات څېړل کیږي. جارج یول په خپل اثر (The Study of Language fourth edition-page 240)

Technically, the term “accent” is restricted to the description of aspects of pronunciation that identity where an individual speaker is from, regionally or socially. It is different from the term dialect, which is used to describe features of grammar and vocabulary as well as aspects of pronunciation.

ژباړه: له تخینکي پلوه، د فشار اصطلاح یوازي د تلفظ په موضوحاتو پوري اړه لري، کوم چي دا خبره ښکاره کوي چي پلانکی ویناوال په سماجي او سیمه ییزه توګه له کومه ځایه څخه دی. په دې اساس فشار د ګړدود له اصطلاح سره توپیر لري، کوم چي د ګرامري خصوصیاتو، تورو او د تلفظ د برخو / اړخو د څېړلو دپاره کارول کیږي.

## د ګړدود په اړه نظرونه:

طارق رحمان (Linguistics for the beginners) وائي د ګړدود په هکله دوه نظرونه موجود دي:

۱ – روایتي یا عمومي : (The traditional view or popular view)

۲ – معاصر ژبني نظر: (The modern linguistic view)

۱ – روایتي یا عمومي : (The traditional view or popular view)

طارق رحمان زیاتوي د روایتي یا عمومي نظر له پلوه، معیاري ژبه هغه یوه ژبه ده چي د لوستو خلکو(educated people) لخوا د کتابونو د لیکلولو، وینا / لیکچر کولو، او رسمي خبرو اترو په وخت کښې استعمالیږي. دا ژبه د قدرت په مرکزونو، لکه پوهنتونونه، انتظامیه، عدلیه / قضائي، عسکري ادارو او سیاست، کښې کارول کیږي. دی زیاتوي، لهجې د نالوستو خلکو لخوا ویل کیږي، او لوستي خلګ و دوی ته په کم یا تعصبي نظر ګوري. (مخ ۱۴۳)

۲ – معاصر ژبني نظر: (The modern linguistic view)

له دې پلوه د یوې ژبې معیاري نوعه/ قسم پخپله یوه لهجه ده. دا رنګه ټولي لهجې په بنیادي توګه نوعې / قسمونه / ډولونه دي . په دې اساس یوه ژبه د دې ټولو لهجو / ګړدودونو مجموعه ده.

According to this view, the standard variety of a language is also a dialect. Thus all dialects are basically varieties which are mutually comprehensible. A language is, then, merely the sum total of all its dialects. (page 144)

طارق رحما په مخ زیاتوي:

که موږ چیري د یوې ژبې پر تاریخي پرمختګ باندي پام وکړو، موږ ته به دا معلومه سي، چي معیاري نوعه / قسم (variety) د ژبې پلانینګ (language planning) له لاري رامینځته شوه. یعني دا یوه سیاسي فیصله وه چي یوه لهجه معیاري وګرځوي، او دا به د داسي خلګو ژبه وي چي قدرت او شتمني/ دولت لري. دلته له معیاري څخه مقصد د لیکدود/ املا تاکل، تلفظ، او قاموسونه لیکل، ګرامر او نور. په دې اساس ژبې د غیر ژبني علتونو پر بنیاد باندي معیاري کیږي.

It you look at the historical development of languages; you will discover that the standard variety was developed by language planning. The decision to make one dialect that standard was a political one- it happened to be the language of those who had power and money or for some other such non-linguistic reason…standardization means fixing spellings, pronunciation, etc. and writing dictionaries, grammars etc. Thus, languages are standardized for non-linguistics reasons. (p-145)

**معیاري ژبه :(The standard language)**

له معیاري ژبې څخه مقصد د یوې ژبې د بېلا بېلو لهجو څخه یوه لهجه انتخابول او بیا د هغې دپاره د ژبني پلاننګ د لاري پر څلور یا پینځو اړخونو باندي کار کول دي. د معیاري ژبې په هکله هډسن (R. A. Hudson-Sociolinguistics 2nd edition 1996) په وائي:

…standardization produces a standard language where before there were just ‘dialects’. The notion ‘standard language’ is somewhat imprecise, but a typical standard language will have passed through the following process:

1- Selection, 2 – Codification, 3 – Elaboration of function, 4 – Acceptance

1 – **Selection**: Somehow or other a particular variety must have been selected as the one to be developed into a standard language. It may be an existing variety, such as the one used in an important political or commercial center, but it could be an amalgam of various varieties. The Choice is a matter of great and political importance, as the chosen variety necessarily gains prestige and so the people who already speak it share in this prestige. However, in some cases the chosen variety has been one with no native speakers at all for instance, Classical Hebrew in Israel and the two modern standards for Norwegian.

2- **Codification**: Some agency such as an academy must have written dictionaries and grammar books to ‘fix’ the variety, so that everyone agrees on what is correct. Once codification has taken place, it becomes necessary for any ambitious citizen to learn the correct forms and not to use in writing any incorrect forms that may exist in their native variety.
3- **Elaboration for function**: it must be possible to use the select variety in all the functions associated with central government and with writing: for example, in parliament and law courts, in bureaucratic, educational and scientific documents of all kinds and of course in various forms of literature.
4- **Acceptance**: The variety has to be accepted by the relevant population as the variety of the community – usually, in fact, as the national language. Once this has happened, the standard language serves as a strong unifying force for the state, as a symbol of its independence of other states (assuming that its standard is unique and not shared with others, and as a marker of its difference from other states. It is precisely this symbolic function that makes states go to some lengths to develop one. (p-22)

جارج یول د یوې ژبې د معیاري کرځولو دپاره دا لاندي پړاونه په ګوته کړي دي.

1- Selection (Choosing an official language), 2- codification (grammars), 3 – elaboration 4 – implementation 5 – Acceptance (p-247-the study of language)

**Idiolect**: The personal dialect of an individual speaker.

**Sociolect**: Social dialect, a variety of a language that is strongly associated with one social group (e.g. working-class speech)

**Social Dialect**: a variety of a language with features that differ according to the social status (e.g. middle class or working class) of the speaker.

**پښتو او د پښتو لهجې**

صدیق الله ریښتین د پښتو لهجې په درې ګروپه باندي وېشي، هغه لیکي:

د پښتو ډیري لهجې دي که څه هم تر اوسه پوري د لوېدیځو او ختیځو پوهانو له خوا د پښتو لهجې په دوو لوېدیځو او ختیځو لهجو وېشل شوي دي او بنسټ یې د دوو تورو (ښ او ږ) توپیر ګڼي چي په لوېدیځو لهجو کي یې (ش - ژ) ته نژدې او په ختیځو لهجو کي (خ - ګ) تلفظ کیږي. خو اوس د زیات غور او مطالعو په نتیجه کي یوه دریمه لهجه د مرکزي لهجې په نوم د اساسي لهجو په قطار کي شامله شوې ده.

پښتو لهجې که څه هم په دوو سترو او فرعي ډلو وېشل کیږي خو اصلي لهجې یې په درې ډول دي.

**۱ - لوېدیځه یا کندهارۍ لهجه**

لوېدیځه یا کندهارۍ لهجه په افغانستان او لوېدیځو کي ویل کیږي. په دغه لهجه کي د پښتو دوه ځانګړي توري (ښ - ږ) د (ش - ژ) اوازونو ته نژدې تلفظ کیږي او د (ش) اواز په (س) بدلیږي، لکه وشو، شوي دي، شته، نشته، وسو، سوي دي، سته او نسته.

**۲ - مرکزي لهجه**

مرکزي لهجه چي د منځنۍ لهجې په نوم یادیږي او د افغانستان په مرکزي سیمو غزني، وردګ، پکتیا، پکتیکا او نورو کي ویل کیږي. په دغه لهجه کي د پښتو ځانګړي توري (ښ - ږ) په خپل اصلي اوازي سره تلفظ کیږي.

**۳ - ختیځه لهجه**

ختیځه لهجه چي د ننګرهارۍ لهجې په نوم یادیږي د ننګرهار، مهمند، باجوړ، اشنغر، او د یوسفزو په سیمه کي ویل کیږي. په دې لهجه کي (ش – ږ) د (خ - ګ) په څېر ویل کیږي.

**ب - فرعي لهجې**

د ریښتین صاحب په قول په پښتو کي فرعي لهجې زیات ډولونه لري، ځیني مهم ډولونه یې په دا ډول دي.

وزيري لهجه، د ختټکو لهجه، کاکړی لهجه، د احمدزو لهجه، د پکتیا لهجه، د اپرېدو لهجه، د یوسفزو لهجه، باجوړ لهجه، د مهمندو لهجه، د خوګیاڼو لهجه، د شینوارو لهجه.

(حواله: ترین او ترینو یوه تاریخي او تحقیقي څېړنه مخ ۱۶۸-۱۶۹)

ځیني محققین یې بیا پر دوو لهجو باندي ویشي:

۱ – قندهاری یا نرمه / یا لوېدیځه لهجه (Soft Dialect)

۲ – یوسفزی / پېښوری یا کرخته لهجه (Hard Dialect)

**ترین او ترینو**

پر ځای د دې چي موږ خپل لېکچر/ وینا له ترینو څخه پیل کړو، ښه به دا وي چي د ترین قبیلې په هکله لنډ معلومات وړاندي کړو. خبر محمد عارف صاحب د ترین قبیلې په اړه د (ترین او ترینو یوه تاریخي او تحقیقي څېړنه پر ۱۴ مخ باندي) داسي معلومات راوړي.

شجرې د قیس عبدالرشید څلور زامن غورغښت، سړبن، بېټنې او کرلاڼ لیکي، بلکې ډېري شجرې او تاریخونه کرلاڼ لاهم نه ذکر کوي او په دا ډول د پښتنو یوه لویه برخه له خپل چوکاټ څخه باسي.

**د سړبن پینځه زامن وو:**

۱ – شیراڼي، / ۲ – ترین / ۳ – میاڼي / ۴ – بړیڅ / ۵ – اورمړ

د ترین څلور زامن وو:

۱ – ژړ ترین، ۲ – بور ترین / ۳ – تور ترین / ۴ – سپین ترین

او ورسره دا هم یادوي چي بور ترین په (اودل یا ابدال) مسمی شو.

**ترینو لهجه:**

عارف صاحب د ترینو په هکله پخپل یاد شوي اثر کښې داسي لیکي:

ترینو ټول محققین یوه ډېره لرغوني لهجه بولي او کثره خو په دې لهجه کي د پښتو ژبي ابتدائي خال و خط لټوي. د دغه لهجې ذکر تر ټولو له مخه جمعیت رائی (Jamiat Rai) په

لورالائي او سيوى ګزيټيرز کی کړی دی، کوم چي په ۱۹۰۶ کال کی د بريټش ګورنمنټ له خوا چاپ شوی دی.

لهذا په ګزيټيئر کي ليک دي چي د سنجاوی سپين ترينان د پښتو يو بدل شوی شکل يا له پښتو څخه جلا بل ډول پښتو وائي. چي هغه ته (ترينو) ويل کيږي. دا د کوټي او پښين د پښتو له لهجې څخه جلا غوندي لهجه ده. روايت دی چي وڼيڅانو د خپل پلار سره جنګ وکړ نو پلار ګوت يا ښېرا ورته وکړه چي د ګزيټيئر په الفاظو کي څه ډا ډول ده.

(Warza Pa Zhaba the Sok ma Puhezah). جمعيت رائی ليکي په دغه لهجه عام خلګ نه پوهيږي البته دغه مخصوص خلګ خپله دا لهجه ويلای شي. تر دې وروسته جمعيت رائی دغه يوولس د ترينو لهجو توري سره له ترجمې وړاندي کوي:

| ترينو | پښتو | انګريزي |
|---|---|---|
| پيار | پلار | Father |
| وګا | باد | Wind |
| مېر | لمر | Sun |
| غوا | غوا | Buloek |
| اووښ | اوښ | Camel |
| سپا | سپی | Dog |
| ښوه | ښودې / پیۍ | Milk |
| شمزي | شلومبې | Butter Milk |
| روڼه | غوړي | Clari Fied Milk (Ghi) |
| ملاستڼ | پګړي | Turban |
| ريبون | قميص | Shirt |

مخونه (۱۷۸-۱۷۷)

بل ځای د سیوی ګزیټیر کي لیک دي:

چي د شاهرګي مخاڼي او وڼیڅي له پښتو څخه جلا بل ډول پښتو وايي چي ورته څلګري یا ترینو ویل کیږي. او دغه د ښېرا روایت رانقل کوي.

له دې څخه دا خبره واضح سوه، چي په تحصیل سنځاوۍ چوتیر کي وڼیڅي اوسي او په شاهرګ او شاوخوا سیمو کي مخاڼي یا څلګري اوسي او دا هم چي وڼیڅي او څلګري یوه لهجه وايي خو د پلار ګوت یآ ښېرا پر مخاڼیو باندي هم تپل شوې ده.

... که څه هم د وڼیڅیو او مخاڼیو لهجه یوه ده او دواړه قیبلې و ځان ته سپین ترینان وايي خو په دواړو کي یو فرق د لهجې په اعتبار ښکاري واضح دی. نسبتا د وڼیڅیو د تلفظ د ادا کولو انداز سخت وي او په ږغا کي هم تیز او تر توري غوندي وي. خو د دې برعکس مخیاڼي نرم او پوست انداز لري او بیا ځای په ځای ځیني توري په معنوي اعتبار هم جلا جلا په کار راولي:

| مخاڼي | وڼیڅي | پښتو |
|---|---|---|
| لونډه | ډوډۍ | ډوډۍ یا مړۍ |
| ځائ | تونه | ځائ |
| لمن | کوت | لمن |
| کوزړي | رسۍ | رسۍ |
| پورته که | وځله | پورته که |
| سازه | کنډه | ډبره |
| لاندي ویاړ | سپاه ته ویاړ | کښته ولاړ |
| ښکاره یې کړ | ساما یې کړ | ښکاره یې کړ |

تر ګزیټیر وروسته اول مار مارګن سټېرن (Morgen Stieren) و ترینو لهجې ته پاملرنه وکړه. هغه د سیوی د ګزیټیر په حواله لیکي، یوه جلا یا بله لهجه چي وڼیڅي او هغوئ ته ورځرمه څنګلوري یې وايي. دا د پښتو له لهجو څخه یوه لهجه ده چي وڼیڅي ورته ویل کیږي. وڼیڅي لهجه سپین ترینان او د هرنائي سره شاو خوا اوسېدونکي خلګ یې وايي. دا هغه قبائل دي چي

د سیوی او بوستان په میان کې اوسي. مارګن ستېرن په مخ لیکي چي: د دغه لهجې ذکر د سیوی په ګزېتېر کې خوندي شوی وو اوبیا چي کله په ۱۹۱۱ میلادي کال کې سرډینس برې (Sir Denys Bray) د مردم شمارۍ رپورټ لیکلو نو هغه وخت یې ... د دغه لهجې یو څو توري رانقل کړي وو. (۱۸۲-۱۸۱)

**د ونېڅي لهجې خصوصیات**

په ونېڅي لهجه کي آئ (i) ګار شي او دا په وائ (Y) بدل شي، داسي ایل (L) هم په وائ (Y)بدل شي. د مثال په توګه

| | | |
|---|---|---|
| شل ، ښوي | پلار (Father) - پیار | ولاړ- (Went) ویاړ |
| شودې(Milk) - ښوه | توده(Hot) - توا | ترې (Thirsty) – ترړا |

**فعل (Verb)**

دغه رنګه په ونېڅي کې ببل غوندي فعلونه موجود دي. د مثال په توګه (لیکم I write -لیکني) او له دا سره سره ببخي ډېر لفظونه داسي نابلده دي چي په نورو پښتني لهجو او پښتو کي یې درک نه لګیږي: لکه غویی Bull – لیړدا ، دغه ډول کلی village وګړه. (مخ ۱۸۲)

په ونېڅي کې ځیني لغات داسي هم شته چي د پښتو په نورو لهجو کې نه پیدا کیږي، لکه (کړ) په معنا د ماهي لري، زونګ د زانو یا ځنګون معنا لري.

| پښتو | ترینو |
|---|---|
| دلته اوسېدل ګران شو | دلته اوسېدنګ ګران سو |
| په غرمه اور بلول ګرمي جوړوي | غرمې چي اور بلېدنګ ګرمي جوړه که |
| په بدو سترګو کتل مه کوه | بدو سترګو کتنګ مه که |
| د چا ژړول عذاب لري | چا ژړېدنګ دي عذاب لورن |
| د مکان جوړېدل ګټه لي | مکان جوړېدنګ دې ګټه لورن |

خېرمحمد عارف صاحب لیکي: دلته ځیني د پښتو او ترینو جملې او د دوی استعمال راوړو.

| ترینو | پښتو | ترینو | پښتو |
|---|---|---|---|

| | | | |
|---|---|---|---|
| چوک | ثوک | اورته | هلته |
| پرول | خرڅوي | کربه | ښایسته |
| ما | زما | با | بیا |
| هرمزې | ښکنځا | وړیزي | هلکان |
| چوره | انجلۍ، چورۍ | ښوه | پې / شودې |
| چوریه | الکه | روڼه | غوړي |

| **د پښتو جملې:** | **د ترینو جملې** |
|---|---|
| د دغه مکان مالک ثوک دی | دا مکان مالک چوک ده |
| زما پلار مکان خرڅوي | ماپیار دې مکان پرول |
| زما پلار نه دی ښه | ما پیار نه ده ښه |
| زما پلا هلکانو ته سکنځا کوي | ماپیار دي وړیزو ته هرمزې له |
| چورۍ سر ږمونځ کړ | چوریا سر اوږنز کړ |
| چوریه ! لاس ومینځه | چوریا لاسته اونزنا |
| هلته مي یوه میاست تیره کړه | اورته مه یا ماست تېره که |
| څومره ښایسته دی | څومه کربه ده |
| بیا راځي | با دي راسه |
| هلکان سهار وخت ماجت له ځي | وړیزي سهار وخت جمات له رومین |
| زه یو ګلاس پې غواړم | زې یو ګلاس ښوه غواړي |
| غوړي يې په دېګ کې واچول | روڼه یې دېګ چې واچړه |